عبدالوکیل متین
۲۰۲۱/۰۸/۰۴

# هیواد

جوړ د تورو په بنیاد ئې، تل اباد اوسي هېواده!
د سرلوړي ملت کور ئې، تل آزاد اوسي هېواده!

ته وطن د مېړنو ئې، ته تاتوبی د غښتلو
ته وطن د پرګنو یې، ته مسکن ئې د ښاغلو

ته مدفن د شهیدانو، مدام ښاد اوسي هېواده!
کاشکي نه وای رالوی شوي، لوټماران ستا په لمن کې

دا چې تا په پردو پلوري، تجاران ستا په لمن کې
مصئون اوسي له طوفانه، کلک بنیاد اوسي هېواده!

چا خرڅ کړی په لویدیځ ئې، د یو خو تنګو لپاره
چا خرڅ کړی په ختیځ ئې، د یو خو تنګو لپاره

په امان له هر قاتل او هر جلاد اوسي هېواده!
د متین د ژوند ژانګو ئې، په بد حال مې پېرزو نه ئې

په بمونو او مرمو، د خپل پردو د ویشتو نه ئې
هیوادونو د جهان کې، لوړ هېواد اوسي هېواده!

جون ۲۷ ۲۰۰۳
کلیفورنیا


د انجنیر عبدالوکیل متین د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com